**د لوړو زده کړو وزارت**

**لغـمـــــان پوهنتـــــــون**

**انـجـــــــنيري پوهنځـی**

# پنځه کلن ستراتیژیک پلان (۱۴۰۷-۱۴۰۳)

ترتیب کوونکي:

د انجنيري پوهنځي د پلان او پاليسی کمېټه

# لړلیک


د رئیس پیغام ........................................ ۱
مفهومونه ........................................ ۲
سریزه ........................................ ۴
.لید لوری او ماموریت ........................................ ۵
ارزښتونه ........................................ ۵
کلي هدف ........................................ ۵
پنځه کلنې ستراتیژیکې موخې ........................................ ۵
ستراتیژیکو موخو ته لومړیتوب ورکول ........................................ ۶
لنډ مهاله موخو ټاکنه ........................................ ۱۰
۱.۱ د کادري بستونو پراختیا، گمارنه او ظرفیت لوړول ........................................ ۱۰
۲.۱ د نوو څانگو
تأسیسول ........................................ ۱۰ ۳.۱ معلوماتي
ټکنالوژۍ ته لاسرسی ........................................ ۱۱
۲. څیړنیز پرگرامونه ترسره کول ........................................ ۱۱
۱.۳ غوره حکومتوالی رامنځته کول او اداري بېروکراسي له منځه وړل ........................................ ۱۲
۲.۳ محصلینو ته غوره خدمات رامنځ ته کول ........................................ ۱۲
۱.۴ د تحصیلي نصاب بیا کتنه او پراختیا ........................................ ۱۳
۲.۴ د کریډیټ سیستم پیاوړتیا او پلي کول ........................................ ۱۳
۵. د کیفیت تضمین او اعتبار ورکونه ........................................ ۱۴
۶. د برېښنایي زده کړو پروگرامونه ........................................ ۱۴
۱.۷ عایداتي سرچینو رامنځته کول، پراختیا او مالي خپلواکي ترلاسه کول ........................................ ۱۴
۲.۷ د مناسب تدریسي او اداري چاپیریال د رامنځته کولو لپاره د اړتیا وړ زیربناوو جوړول ........................................ ۱۵
۸. د اکاډمیکو او غیر اکاډمیکو ادارو سره د اړیکو پراختیا لپاره هوکړه لیکونه او توامیتونه ........................................ ۱۵
د انجنیري پوهنځي د (۱۴۰۷-۱۴۰۳) کلنو توحیدي پلان ........................................ ۱۶
SWOT Analysis ........................................ ۳۶
پایله او د دې استراتیژیک پلان پلي کول ........................................ ۳۷

## د رئیس پیغام

ستراتیژیک پلان د یوې ادارې موخې، کړنې، سرچینې او اړتیاوې ټاکي او د ادارې د راتلونکو پراختیایي چارو لپاره ترې د اساسي کړنلارې په توګه ګټه اخېستل کېږي. د یاد پلان شتون د یوې ادارې لپاره په تور تم کې د روښنایۍ په څېر دی چې د ادارې د ټولو لویو او کوچنیو پلانونو لپاره د سرچینې په توګه په کار وړل کېږي، د دې ترڅنګ د یوې ادارې ستراتیژیک پلان څخه د یادې ادارې د چارو د ارزونې د وسیلې په ډول ګټه اخېستل کېږي، چې پر مټ یې چارو ته د ادراې ژمنتیا په ښه ډول څرګندیږي. دغه ستراتیژیک پلان د هېواد د اړتیاوو، پرمختګونو او د لوړو زده کړو وزارت د تګلارو په رڼا کې ترتیب شوی دی. د دې پلان موخه داده چې د انجنیري پوهنځي د علمي، څېړنیزو، اکاډمیکو او بنسټیزو فعالیتونو په برخه کې لا ډېر پرمختګ وکړو او په ملي او نړیواله کچه د یو معتبر علمي بنسټ په توګه ځان وپېژنو.

پر همدې بنسټ پورته یادو موخو ته د رسیدو لپاره انجنیري پوهنځي رهبرۍ د پلان کمېټې ته دنده وسپارله چې د یاد پوهنځي لپاره پینځه کلن (۱۴۰۳-۱۴۰۷ هـ ل) ستراتیژیک پلان چمتو او د ورستیو کتنو لپاره یې د پوهنځي د علمي شورا سره شریک کړي، له نیکه مرغه کمېټې خپله دنده په بشپړ بریالیتوب سره ترسره او یاد ستراتیژیک پلان یې د هېواد د اړتیاوو، پرمختګونو او د لوړو زده کړو وزارت د تګلارو په رڼا کې ترتیب کړ، ډاډه یم چې د یاد ستراتیژیک پلان په پلي کولو سره به هغه موخې، چې د پوهنځي د پرمختګ او علمي وړتیاوو لوړولو لپاره ټاکل شوي وي ترلاسه کېږي، چې په ټوله کې به د علمي، څېړنیزو، اکاډمیکو او بنسټیزو فعالیتونو پرمختګ کې رغنده او مثبت رول ولوبوي.

په ډاډ سره ویلی شم چې د دې ستراتیژیک پلان په بریالۍ پلي کولو سره به انجنیري پوهنځی د خپل ماموریت او لیدلوري په لور مهم ګامونه واخلي او په هېواد کې به د علمي او تخنیکي پرمختګ یو بنسټیز نقش ولوبوي. په پای کې د پوهنځي له ټولو ښاغلو استادانو، اداري کارمندانو ،محصلینو او همکارانو مننه کوم، چې د دې ستراتیژیک پلان په جوړولو کې یې خپل ارزښتناک رول ترسره کړی دی.

**درنښت**

**پوهنمل انجنیر محمد خالد ناصري**

**د انجنیري پوهنځي رئیس**

## مفهومونه

**مفاهم:** د ستراتیژیک پلان د برنامې تطبیق، چې د پوهنځي د چارو د سمون او پرمختتک لپاره ډیر اړین دی.

په لاندې کرښو کې به د برنامې هره برخه تعریف او وڅیړل شي:

**پروګرام:** پروګرام د موخو تر لاسه کولو لپاره یوه طرحه او نقشه ده، چې د اړینو سرچینو، مهالویش، دندې او نور فعالیتونه مشخصوي، د پروګرام موخه، وخت او زمان، د چا له خوا کومې مرجع ته او په څومره وخت کې باید عملي بڼه او خپل اغیز وښايي.

**ستراتیژي:** یوه ځانګړې طرحه ده، چې د پوهنځي د موخو د لاسته راوړلو له پاره د یو خاص فکر او څرګندې موخې پر بنسټ په اکاډمیکو ساحو کې عملي کېږي، هره ستراتیژي په خپله کاري ساحه کې د ځانګړې پالېسۍ او موخې پر بنسټ پرمخ وړل کېږي، په یاد پروګرام کې ټولې ستونزې مشخص کېږي، چې د حل او پرمختتګ له پاره یې ځینې پلانونه او طرحې جوړیږي.

**ستراتیژیک پروګرام:** په دغه ستراتیژیک پروګرام کې لومړی د ځانګو په سطحه ستونزې، وړاندیزونه او ځینې طرحې ذکر کېږي او بیا ورته په ټولیزه بڼه د پوهنځي په عمومي ستراتیژیک پلان کې د یو منظم میکانیزم له مخې د حل لاره لټول کېږي.

**ستراتیژیک پلان:** ستراتیژیک پلان یو داسې علم، هنر او د مدیریتي پریکړو ټولګه ده، چې سمون شوو موخو ته د رسیدلو له پاره محیطي عواملو ته په پام سره تر سره کېږي.

**سمون:** سمون د ستراتیژیک پلان یو پړاو دی، چې لاندې برخې په کې شاملې دي:

د لیډلوري ځانګړې کول، ماموریت، ارزښتونه، موخې، محیطي عوامل (داخلي او بهرنۍ) د ستراتیژیک حالت او ممکنه ستراتیژیو ټاکل د لومړیتوبونو تعین او مشخص کول.

**کړنه:** د ستراتیژیک پلان دویم پړاو دی، چې لاندې برخې په کې شاملې دي:

د ستراتیژیکو لومړیتوبونو ټاکل، د لنډ مهالو موخو مشخص کول، کلنۍ عملیاتي پلان، د بودیجې سمون، د پوهنځي د فزیکي جوړښت له پاره طرحې، د اجرایوي پالیسیو سمون، د پوهنځي د رهبرۍ د لارو چارو ټاکل او د سرچینې ځانګړې کول.

**ارزونه:** ارزونه د ستراتیژیک پلان دریم پړاو دی، چې د لوړو زده کړو د معیارونو او پالیسیو سره د پوهنځیونو د کړنو د عملي کولو لپاره یو میکانیزم جوړیږي.

**لیدلوری:** د مشخص پوهنځي ذهني یا تجسمي انځور ته وایي، چې غواړي د خپلو کړنو په نتیجه کې یې تر لاسه کړي.

**ماموریت:** د پوهنځي د شته والي یو داسې ذریعه ده، چې له نورو پوهنځیونو سره یې توپیر په ډاګه کوي، ماموریت باید څرګند، روڼ او د پوهنځي چارو ته د پوهېدلو او منلو وړ وي.

**موخه:** هغه ټاکل شوی حالت یا پایله ده ، چې د ټولو اکاډمیکو کړنو نتیجه ګیري په ډاګه کوي. موخې باید د لاسته راوړنې او ننګونې وړ وي او یو ټاکلی وخت په برکې ونیسي او د څېړنې لارې او چارې یې باید ځانګړې وي او دغه موخې تر ډېره باید پاشلي نه وي.

**ارزښتونه:** ارزښتونه په خپله د پوهنځي منل شوي اصول دي، چې د دې پر بنسټ د پوهنځي ماموریت او موخې تر لاسه کېږي. په ټوله کې د پوهنځي ارزښتونه هغه اصول او لارښوونې دي کوم چې د پوهنځي د پریکړې نیولو، پراختیا او حرکت لوری ټاکي.

# سریزه

انجنیري پوهنځی ویاړي چې د راتلونکو پنځو کلونو لپاره خپل ستراتیژیک پلان چې اکاډمیکې لوړتیا، نوښت او د ټولنې خدمت ته زموږ ژمنتیا منعکسوي وړاندې کوي. دا ستراتیژیک پلان د یوې ګډې پروسې له لارې چې پوهنځي، محصلینو، فارغانو او نورو ښکېلو اړخونو پکې ګډون درلود جوړ شوی. چې موخه یې د ټولنې اړتیاوو او نړیوالو انجنیري نورمونو سره د پوهنځي د اهدافو همغږي کول دي.

په راتلونکي مزل کې به زمونږ ځانګړی تمرکز د زده کړو په کیفیت لوړولو، د څېړنې وړتیاوو پراخولو، له ښکېلو اړخونو سره د ملګرتیا پیاوړي کولو او زموږ د سیمې ټولنیز-اقتصادي پرمختګ کې ونډه اخیستلو باندې وي. دا پلان زموږ د کار لوری ټاکي ترڅو خپل زده کوونکي له راتلونکو ننګونو سره د مقابلې لپاره په اړینو مهارتونو، تخنیکي پوهه اسلامي او ملي ارزښتونو سمبال کړو، په ورته مهال دا پلان په افغانستان کې د انجینري زده کړو په برخه کې د یوې مخکښې ادارې په توګه زموږ د پوهنځي رول پیاوړی کوي.

مونږ ډاډه یو چې دا ستراتیژیک پلان به زمونږ د کاري مسیر د لارښوونې لپاره د لارې د یوې نقشې په توګه کار کوي، او د ټولنې پرمختګ او مثبت بدلون کې به زمونږ ونډه تضمینوي. مونږ په دې پلان کې ذکر شوو موخو ته ژمن یو او د لاسته راوړلو لپاره یې د یو قوي ټیم په توګه کار کوو.

په دې پنځه کلن ستراتیژیک پلان کې انجنیري پوهنځي خپل لیدلوري او ماموریت ته په کتو سره خپلې روښانه موخې ټاکلي، چې ټاکل شویو موخو ته د رسېدو  له پاره  ټولې اړتیا او اسانتیاوي په هر اړخیزه توګه په پام کې نیول شوي دي.

# لید لوری او ماموریت

## لید لوری (Vision)

په انجنیري مسلک کې د هېواد په کچه د تدریس، څېړنو او نوښتونو یو معیاري او فعال مرکز اوسېدل.

## ماموریت (Mission)

د شته امکاناتو په مرسته په مسلکي پوهه، تخنیکي مهارتونو، اسلامي او ملي روحیه سنبال د لیسانس په کچه انجنیران روزل.

## ارزښتونه:

انجینري پوهنځی د خپل ماموریت په ترسره کولو کې لاندې ارزښتونو ته ژمن دی:

- اسلامي او ملي ارزښتونه
- عدالت او روڼتیا
- اکاډمیک اصول او اخلاق
- مسلکیتوب
- کیفیت او معیار
- نظم او دسپلین
- نوښت
- د ټیم په بڼه کارکول

## کلي هدف

د اسلامي او ملي ارزښتونو تر څنګ مسلک ته ژمن او په عصري تکنالوژۍ سنبال انجنیران روزل.

## پنځه کلنې ستراتیژیکې موخې

انجنیري پوهنځي خپل هدف ته د رسېدو په موخه لاندې ستراتیژیکې موخې ټاکلي دي:

١. د کادري بستونو پراختیا، ګمارنه او ظرفیت لوړول .
٢. څېړنیزو پروګرامونو ته پراختیا ورکول.
٣. د ښه حکومتولي او دفساد د له منځه وړلو په موخه د اداري ریفورم او منظم سیستم رامنځته کول.
٤. د نوي بیاکتل شوي نصاب تطبیق او ارزونه.
٥. د کیفیت د تضمین او اعتبار اخیستنې په موخه کړنې ترسره کول.
٦. بریښنایي زده کړو ته پراختیا ورکول.
٧. زیربنایي پروژو د رامنځته کولو په موخه کړنې ترسره کول.

۸.  توامیتونو او هوکړه لیکونو ته پراختیا ورکول.

## ستراتیژیکو موخو ته لومړیتوب ورکول

د پوهنځي لپاره ستراتیژیک لومړیتوبونه غوره شوی. کوم چې د پوهنځي لید لوري او ماموریت ته په کتو سره غوره شوی، چې په لاندې جدول کې ځای پرځای شوي او پوهنځي د دغه ستراتیژیکو موخو د ترلاسه کولو لپاره پنځه کلن پلانونه ترتیب کړی دي.

د ستراتیژیکو موخو ته د لومړیتوب ورکولو جدول :

| ګڼه | د استراتیژي لومړیتوب | ستراتیژي | پروګرامونه |
|---|---|---|---|
| ۱ | د کادري او اداري بستونو پراختیا، ګمارنه او ظرفیت لوړول، او د پوهی او نوښت تولید | • د کادري بستونو پراختیا، ګمارنه او ظرفیت لوړول<br>• د نوو څانګو ایجادول<br>• معلوماتی تکنالوژي ته لاس رسی. | • د لوړو زده کړو محترم وزارت د ملکي لوړو زده کړو د قانون مطابق په کار پوه، ملي او اکاډمیکو اصولو او ارزښتونو ته د ژمنو کادري وګړو وړاندیز کول او ګمارل<br>• د هېواد دننه ماسترۍ او دوکتورا برنامو ته د علمي کادر پیژندل<br>• د هېواد بهر د ماسترۍ او دوکتورا برنامو ته د علمي کادر پیژندل<br>• د پوهنتون د داخلي منابعو څخه په استفادې سره استادانو، اداري کارمندانو او محصلینو ته د ظرفیت لوړونې علمي ورکشاپونه دایرول.<br>• د ترانسپورټیشن او برق انجنیري د څانګو ایجاد<br>• د معلوماتي تکنالوژۍ د مرکز جوړول او پراختیا<br>• په ټولو اداري او تدریسي پروسو کې د معلوماتي تکنالوژۍ وسایلو کارول<br>• په پوهنځي کې د Wi-Fi سیستم رامنځته کول او پراختیا ورکول<br>• د پوهنځي اړوند کارمندانو ته د معلوماتي تکنالوژۍ په اړه روزنیزو پروګرامونو دایرول |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |
| ۲ | ځېړنیزو پروګرامونو ته پراختیا ورکول | • ځېړنیزو پروګرامونه تر سره کول | • د پوهنځي په کچه ځېړنې کمیته جوړول<br>• د ځېړنیزو پروژ د تطبیق لپاره د مالي منابعو او نورو امکاناتو چمتو کول<br>• د ځېړنې سره د بلدتیا په موخه د پوهنتون دننه روزنیز ورکشاپونو ته کادري غړو ورپیژندل<br>• د هیواد څخه بهر ځېړنیزو ورکشاپونو ته د کادري غړو ورپیژندل<br>• په بیلابیلو برخو کې د محصلینو پواسطه د ځېړنو ترسره کول<br>• پروخت سره د علمي ترفعیاتو ترسره کول<br>• د ښکیلو غاړو سره د پایلو شریکول |
| ۳ | د ښه حکومتولي او د فساد د له منځه وړلو په موخه د اداري ریفورم او منظم سیستم رامنځته کول. | • د ښه حکومتولي او دفساد د له منځه وړلو په موخه د اداري ریفورم او منظم سیستم رامنځته کول.<br>• محصلینو لپاره غوره خدمات ترسره کول. | • د اړتیا وړ اداري کارکوونکو وړاندیز کول او ګمارل<br>• د اړتیا وړ خدماتي کارکوونکو وړاندیز کول او ګمارل<br>• په پپوهنځي کې د رهبری، علمي او اداري مجالسو دایرول<br>• په ټولو چارو کې د هیواد دنافذه قوانینو، لوړو زده کړو قوانینو، لوایحو، مقررو، پالیسیو او طرزالعملونو تطبیق او څارنه<br>• د اداري فساد د مخنیوي اړوند عامه پوهاوي سیمینارونه دایرول<br>• محصلین به خپلې نمرې په انلاین شکل وګوري |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | • د مسلکي پوهې تر څنګ د لازمو مهارتونو زده کړې چاپېریال چمتو کول<br>• د پوهنتون د چاپېریال سره د بلدتیا روزنیزو برنامو جوړول یا عامه پوهاوي<br>• د شنې ساحی پراختیا<br>• د محصلینو وړاندیزونو او شکایتونو ته دلاس رسي سېستم جوړولو په موخه د نظم او ډسپلین کمیټو جوړول<br>• سپورتي پروګرامونو د ترسره کولو لپاره د میدانو جوړول<br>• د HEIMS سیستم کارونه |
| ۴ | د نوي بیا کتل شوي نصاب تطبیق او ارزونه. | • د تحصیلي نصاب بیاکتنه او پراختیا<br>• د کریډیټ د سیستم پیاوړتیا | • د پوهنځي د تدریسي نصاب د تطبیق او څارنې په موخه د کمیټې جوړول<br>• د پوهنځیو اړوند دتدریسي کتابونو چاپ<br>• د ټولنې سره د بېلابېلو لارو اړیکو نیول<br>• د کریکولم د پراختیا په موخه د هېواد دننه د نورو پوهنتونو سره سلا مشورې کول<br>• د لوړو زده کړو محترم وزارت د پالیسی مطابق ارزونه ترسره کول<br>• د کریډیټ سېستم د اغېزمنتیا په اړه محصلینو ته معلومات ورکول<br>• د کرېډیټ سېستم د تطبیق څارل |
| ۵ | د کیفیت د تضمین او اعتبار اخیستنې په موخه کړنې ترسره کول. | • کیفیت تضمین او اعتبار اخیستنه | • د پوهنتون او پوهنځي په کچه د تضمین کیفیت کمېټو جوړول<br>• د تضمین کیفیت د معیارونو د تطبیق په موخه څارنه او ارزونه |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ٦ | بریښنایي زده کړو ته پراختیا ورکول. | • د بریښنایي زده کړو پروګرام | • د بریښنایي زده کړو پروګرام<br>• د بریښنایي زده کړو لپاره کمپیوټر لیب جوړول |
| ٧ | زیربنایي پروژو د رامنځته کولو په موخه کړنې ترسره کول. | • د عایداتي سرچینو رامنځته کول، پراختیا او مالي خپلواکي ترلاسه کول.<br>• د مناسب  تدریسي او اداري چاپیریال د رامنځته کولو لپاره  د اړتیا وړ زیربناوو جوړول | • د شپې برنامې رامنځته کول<br>• لنډ مهاله مسلکي کورسونو جوړول.<br>• د مشورتي اوڅېړنیزو برنامو تطبیق.<br>• د ساختماني پروژو طرحه او ډیزاین<br>• د ډیپلوم  او ترانسکریپت ورکړه<br>• د مجهز کمپیوټر لب جوړول<br>• څېړنیزو پروژه د ترسره کولو لپاره د لابراتورونو جوړول<br>• لابراتواری وسایلو خریداری<br>• د پوهنځی د مخې ساحې هموار کاري<br>• ترمیمات<br>• د  محصلینو د زده کړې لپاره معیاری تدریسي  صنفونو جوړول<br>• د چمنونو جوړول<br>• د کمپیوټر لیب لپاره د اجناسو خریداری<br>• د کتابتون جوړول او غني کول<br>• دفتري وسایل خریداري او وړاندیزول |
| ٨ | توامیتونواو هوکړه لیکونو ته پراختیا ورکول | • اکاډمیکو ادارو  سره د اړیکو پراختیا لپاره هوکړه لیکونه<br>• د غیر اکاډمیکو ادارو سره د اړیکو پراختیا لپاره هوکړه لیکونه | د مهترلام ښاروالی، د ښار جوړونې ریاست ، د سینډیزې او اوبه رسونې ادارو ، د ټولګټو چارو ریاست او د ژوند چاپیریال |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | ساتنې له ریاست سره د هوکړه لیکونو امضا کول |

**لنډ مهاله موخو ټاکنه**

د ســـتراتیژیکو پروګرامونو د تطبیق لپاره موخې د یوې اداري لید لوري، ماموریت او ارزښـــتونو ته په کتو ټاکل کېږي. انجنیري پوهنځي هم د یو علمي او څېړنیز بنســـټ په توګه د ټولنې د پراختیا او هوسـاینې په موخه زده کړیز او څېړنیز پروګرامونه پلي کوي او بشرـي ځواک روزي کوم چې د علم او پراختیا اسـاسي عامل ګڼل کېږي، همدې اسـاسي رسـالت ته په کتو د ټاکل شـوي لید لوري ، ماموریت او ارزښـتونو په رڼا کې یې سـتراتیژیک پروګرامونه جوړ کړي دي او د سـتراتیژیکو پروګرامونو د تطبیق لپاره یې لاندینۍ لنډ مهاله موخې ټاکلي دي.

## ۱.۱ د کادري بستونو پراختیا، ګمارنه او ظرفیت لوړول

انجنیري پوهنځي د سیمې او هېواد د اړتیا سره سم په په بیلابیلو څانګو کې په مسلک پوه متخصصین روزي، چې د دغه کادرونو روزنه په کافي اندازه مســلکي او وړ کادري غړو ته اړتیا لري. انجنیري پوهنځی هڅه کوي، چې د لغمان پوهنتون محترم ریاســت سره په تفاهم د اړتیا وړ بســـتونه ترلاســـه او د لوړوزده کړو محترم وزارت د قوانینو او مقرراتو په رڼا کې مســـلکي او وړ کادرونه وګماري. انجنیري پوهنځی به په راتلونکي کې د کادري بســـتونو د پراختیا، ګمارنې او ظرفیت لوړونې په برخه کې لاندینۍ کړنې ترسره کړي.

۱. د شته څانګو د کادري بستونو اړتیا تشخیص او د تشکیل غوښتنه.
۲. د لوړو زده کړو محترم وزارت د ملکي لوړو زده کړو د قانون مطابق په کار پوه، ملي او اکاډمیکو اصولو او ارزښتونو ته د ژمنو وګړو ګمارل.
۳. د هېواد دننه او بهر د ماسترۍ او دوکتورا برنامو ته د علمي کادر پېژندل.
٤. د پوهنتون د داخلي منابعو څخه په استفادې مسلکي، میتودولوژي او مدیریتي روزنیز پروګرامونه جوړول.
۵. کادري او اداري غړو له پاره د هېواد دننه او بهر لنډ مهاله روزنیز پروګرامونه او علمي سفرونه برابرول.
٦. د بهرنیو ژبو د زده کړې او عصري تکنالوژۍ د کارولو روزنیز پروګرامونه جوړول.
٧. د ټولنې د اړتیا اړوندو پروګرامونو ته د کادري غړو پېژندل.

## ۲.۱ د نوو څانګو تأسیسول

انجنیري پوهنځی چې اوس مهال دوه څانګې لري، لازمه ګڼي ترڅو د مارکېټ اړتیاوو ته په کتو په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې دوه څانګې ایجاد کړي:

- ✓ د ترانسپورټېشن انجنیري څانګه
- ✓ د برق انجنیري څانګه

## ۳.۱ معلوماتي ټکنالوژۍ ته لاسرسی

جوته ده چې معلوماتي ټکنالوژي د معلوماتو په ترلاسه کولو، خوندیتوب ، د اړیکو په ټینګولو، ښه مدیریت او د روزنیزو پروګرامونو د تطبیق په برخه کې اغېزمن رول لري. انجنیري پوهنځی به هم د معلوماتي ټکنالوژۍ په برخه کې د خپلو چارو د لا اغېزمنتیا په موخه په راتلونکی کې لاندې کړنې ترسره کړي:

۱. د Data Base سیستم رامنځ ته کول.
۲. یو مجهز کمپیوټرلب ایجادول.
۳. د اداري، تخنیکي او مدیریتي چارو سمون او پراختیا.
۴. وای فای (Wi-Fi) ته پراختیا ورکول.
۵. د پوهنځي اړوند ټولی څانګي د معلوماتي ټکنالوژۍ پواسطه نښلول.
٦. د پوهنځی ریاست او اداري مدیریت په شمول ټولو څانګو کې ډېجېټل ټېلیفون اسانتیاوې رامنځته کول.
۷. د پوهنځي اړوندو استادانو، اداري کارمندانو او محصلینو ته د معلوماتي تکنالوژی د کارونې په اړه د روزنیزو پروګرامونو دایرول.

## ۱.۲ څېړنیز پروګرامونه ترسره کول

معیاري څېړنې ترسره کول په نړیواله کچه د یو تحصیلي بنسټ د ودې او پرمختګ په برخه کې خپل ځانګړی رول لري. بناءً د انجنیري پوهنځی هم په راتلونکو پنځو کلونو کې ژمن دی چې د علمي څېړنو د ترسره کولو او ودې ورکولو لپاره لاندې کړنې ترسره کړي:

۱. د پوهنځی او څانګې په کچه د څېړنو یو موثر میکانېزم رامنځته کول.
۲. د څېړنیزو پروژو د ترسره کولو له پاره د بودېجې پیداکول.
۳. د څېړنیزو پروګرامونو له پاره له نړیوالو پوهنتونونو او نورو ادارو څخه د مرستو جلبول.
۴. د ساختماني او اوبو د برخې لابراتوارونه ایجادول.
۵. د څېړنیزو پروژو د لاسته راوړنو خپرول او د اړوند ادارو سره یې شریکول.
٦. د خصوصي سکتور دستونزو او اړتیاوو حل له پاره د څېړنیزو پروژو طرحه کول.
۷. د څېړنې په برخه کې علمي کادر غړو، اداري پرسونل او محصیلینو ته ټریننګونه دایرول.
۸. په بېلابېلو څانګو کې د محصلینو په واسطه د څېړنو ترسره کول.
۹. د هېواد څخه بهر په څېړنیزو ورکشاپونو کې د استادانو ګډون.

۱۰. د علمي کادري غړو په واسطه د علمي مقالو ليکل

## ۱.۳ غوره حکومتوالی رامنځته کول او اداري بېروکراسي له منځه وړل

هره اداره د غوره خدماتو د ترسره کولو لپاره د اړتيا وړ اداري تشکيل او مالي سرچينو ته اړتيا لري، چې دغه اداري تشکيل د صلاحيتونو او مسوليتونو په چوکاټ کې د وړ بشري ځواک په گمارنه او روزنه بشپړيږي. همدارنگه په يوه اداره کې فساد د پرمختگونو په وړاندې خنډونه رامنځته کوي، چې د دغې شـــومې پديدې د له منځه وړلو له پاره انجنيري پوهنځی د هيواد د قوانيو، لوړوزده کړو قوانينو، مقرراتو، لوايحو او طرزالعملوپه رڼا کې خپلې کړنې تنظيموي، او هر ډول بيروکراســي له منځه وړی تر څو د پوهنځي اړوندو ادارو کې د هر ډول فساد مخنيوی شوی وي او پدی توگه غوره حکومتوالی رامنځته شی.

1. د اړتيا وړ اداري او خدماتي کارکوونکو وړانديز کول
2. د علمي او اداري مجالسو دايرول
3. په ټولو چارو کې د هيواد دنافذه قوانينو، لوړو زده کړو قوانينو، لوايحو، مقررو، پاليسيو او طرزالعملونو تطبيق
4. د پوهنځي په کچه له فساد سره د مبارزې کمېټې رامنځته کول
5. د اداري فساد د مخنيوي اړوند عامه پوهاوي
6. د اداري کړنو د روڼتيا په موخه د کمپيوتري پروگرامونو رامنځته کول

## ۲.۳ محصلينو ته غوره خدمات رامنځ ته کول

دا چې د ټولو علمي بنسټونو يوه له اساسي موخو څخه خپلو ټولنو ته د لوړ ظرفيت لرونکو بشري سرچينو وړاندې کول دي نو د لغمان پوهنتون انجنيري پوهنځی هم له تاسيس څخه تر اوسه پورې په مختلفو دورو کې مسلکي، په عصري ټکنالوجی و اسلامي او هيوادنی مينې سـمبال ځوان انجنيران خپلې ټولنې ته د خدمت لپاره وړاندې کړي او غواړي چې د خپلو محصـلينو علمي کچه لا نوره هم غني کړي نو په همدې اساس په راتلونکي کې دلاندې برنامو په کار اچولو سره غواړي چې دخپلو محصـلينو ظرفيت لا لوړ وساتي تر څو د مارکېټ غوښتنې لا ښې براورده شوې وي.

1. د پوهنځي په کچه د مجهز کتابتون جوړول تر څو محصلين وکولای شي چې د کريکولم مطابق هر ماخذ ته لاس رسئ ولري.
2. د مجهز کمپوټر لـب ايجادول چې کم له کمه (۵۰) پايې کمپيوټرونه ولري تر څو هغه محصــلين چې د مضــمون محتوا يې په کمپوټر پورې اړه لري، وکولای شي چې نوموړی مضمون په ښه شکل ياد کړي .

۳. د محصلینو فعالیت او ترسره شویو دندو ارزونه کول.
۴. محصلینو ته د معیاري څېړنیزو پروژو ورکول .
۵. په درسي بهیر کې محصلینو ته لا زیاته ونډه ورکول.
۶. د مسلکي پوهې تر څنګ د لازمو مهارتونو د زده کړې چاپېریال چمتو کول.
۷. د شنې ساحې پراختیا.
۸. د محصلینو وړاندیزونو او شکایتونو ته دلاس رسي سېستم جوړول.
۹. د سپورتي میدانونو جوړول

## ۱.۴ د تحصیلي نصاب بیا کتنه او پراختیا

دا چې نړۍ په دوامداره توګه د بدلون او پرمختګ په حال کې ده، تحصیلي بنسټونه اړ دي، چې خپل درسي نصابونه (کریکولم) د بازار او نوي عصرــ د غوښتنو او اړتیاوو په پام کې نیولو سره ترتیب کړي. د انجنیري پوهنځی د خپلو اړوندو څانګو د کریکولمونو د چارو د معیاري کېدو په برخه کې لاندې کړنې ترسره کوي:

۱. د پوهنځي په کچه د کریکولم د کمېټې پیاوړي کول
۲. د کریکولم تطبیق، څارنې او بیاکتنې په برخو کې دعلمي کادر غړو د ظرفیت لوړونې لپاره هڅې کول.
۳. د کرېکولم په بیاکتنه کې د علمي کادر غړو، مسلکي اشخاصو او ذیربطو ادارو سره مشورې کول.
۴. د اړتیا په صورت کې د هیواد د نورو پوهنتونونو سره د کریکولم په بیاکتنه کې همکاري.
۵. نړیوالو معیاري چاپ شویو تدریسی کتابونو ته د لاسرسي هڅې او په تدریس کې ګټه اخیستل.
۶. د پوهنځیو اړوند دتدریسي کتابونو چاپ
۷. له منل شوي کریکولم سره سم د درسي موادو تهیه او برابرول.
۸. د کریکولم د پلي کېدو څخه د ډاډ په موخه دوامداره څارنه.

## ۲.۴ د کریډیټ سیستم پیاوړتیا او پلي کول

د نړۍ ډېری پوهنتونونه د کرېډیټ سېستم د اصولو په رڼا کې خپل روزنیز پروګرامونه پر مخ وړي او له دې لارې محصلانوته د ښو پایلو لرونکو زده کړو او اسانتیاوو زمینه برابروي، چې له یوې خوا محصلان وکولای شي له خپل توان سره سم د زده کړو بهیر پرمخ یوسي او له بل پلوه د نظري زده کړو سره په څنګ کې د اړوندو عملي زده کړو له اسانتیاوو څخه هم برخمن شي. انجنیري پوهنځي د کریډیټ سېستم زده کړو د پیاوړتیا او معیاري کېدو په پار لاندې کړنې په پام کې لري.

۱. د کریډیټ سېستم د اغېزمنتیا په اړه محصلانو ته معلومات ورکول.
۲. په اړوندو څانګو کې د کرېډیټ سېستم عملي کېدو څارل.

۳. د علمي کادر ټولو غړو ته د کریډیټ سېستم د عملي کېدو په اړه روزنیز ورکشاپونه جوړول.

## ۵. د کیفیت تضمین او اعتبار ورکونه

پوهنتونونه د ملي او نړیوالو تحصیلي معیارونو په رڼا کې د خپلو خدماتو د ښه باور ترلاسه کولو په موخه تل هڅه کوي چې په خپلو علمي او څېړنیزو پروګرامونو کې ښــــه والی راولي. نوموړې چارې د ملي او یا هم د نړیوالو اعتبار ورکوونکو ادارو لخوا دبیا کتنې او ارزونې پروســـو په بهیر کې ارزول کېږي چې په پایله کې یې د اړوندو پوهنتونونو خدمات د اعتبار مختلفې درجې ترلاســـه کوي او د علمي او څېړنیزو چارو د نوي والي او غوره والی سـبب ګرځي. د انجنیري پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې د ښه باور او اعتبار تر لاسه کولو لپاره د کیفیت د تضمین او اعتبار ورکولو په برخه کې لاندې کړنې تر سره کوي:

۱. د پوهنځي په کچه د تضمین کیفیت کمېټه جوړول

۲. د تضمین کیفیت د معیارونو د تطبیق په موخه څارنه او ارزونه

## ٦. د برېښنایي زده کړو پروګرامونه

د تدریس-زده کړې د پروسې د بهبود او معیاري توب لپاره انجنیري پوهنځی د حضوري زده کړو تر څنګ د برېښنایي زده کړو پروګرامونه پر مخ وړي. د دغو چارو د ښه مدیریت په موخه د پوهنځي اداره په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې کړنې ترسره کوي:

۱. د پوهنځي د برېښنایي زده کړو کمېټه جوړول.
۲. د برېښنایي زده کړو په اړه استادانو ته د ورکشاپونو برابرول.
۳. په ټولو څانګو کې د برېښنایي زده کړو عامول.
۴. د پوهنځی ټولو محصیلینو ته د برېښنایي زده کړو په هکله ټرېننګونه ورکول.
۵. استادانو او محصلینو ته د HELMS په اړه ورکشاپونه او سیمنارونه دایرول.

## ۱.۷ عایداتي سرچینو رامنځته کول، پراختیا او مالي خپلواکي ترلاسه کول

انجنیري پوهنځی هوډ لري په علمي، اداري او ودانیو برخه کې پراختیا ومومي چې په راتلونکي کې د یو عصرــي پوهنځي په توګه وکولای شي په فوق العاده توګه خپل خدمات وړاندې کړي. اړینه ده چې د لاندې چارو د ترسره کولو لپاره په خپله بودیجه کې په دوامداره توګه زیاتوالی رامنځته کړي، چې دې موخې ته د رسېدو په پار لاندې کړنې ترسره کوي:

۱. د شپې برنامې رامنځ ته کول
۲. لنډ مهاله مسلکي کورسونو جوړول
۳. د اړوندو ملي او نړیوالو تحقیقاتي موسساتو سره ګډې څېړنې ترسره کول

۴. د لابراتوارونو جوړول او په هغه کې د زیربطو ادارو د پروژو مربوط ازمښتونه ترسره کول.
۵. د پوهنځي د علمي او تحقیقاتي مجلی ایجاد او ورته د نشراتو امکانات برابرول
٦. د مرستو د جلب لپاره پروپوزلونه ترتیبول.
۷. د ډیپلوم او ترانسکریپ ورکړه.

## ۲.۷ د مناسب تدریسي او اداري چاپیریال د رامنځته کولو لپاره د اړتیا وړ زیربناوو جوړول

دا چې انجنیري پوهنځی یوه درې پوړیزه ودانۍ لري نو د راتلونکو پنځه کلونو لپاره نوموړې ودانۍ د تدریسي۔ چارو لپاره کفایت کوي خو نوموړی پوهنځی په راتلونکو پنځو کلونو کې لاندې تأسیساتو ته اړتیا لري چې باید ورته جوړ شي:

۱. یو سینمایي تالار پیشنهادول
۲. ساختماني لابراتوارونه پیشنهادول او جوړول
۳. د کمپوټر لب جوړول
۴. د کتابتون غني کول
۵. د لوبو میدان جوړول
٦. محصلینو ته د انټرنیټ خدماتو برابرول
۷. ترمیمات
۸. د محصلینو د زده کړې لپاره معیاری تدریسي صنفونو جوړول
۹. د چمنونو جوړول

## ۸. د اکاډمیکو او غیر اکاډمیکو ادارو سره د اړیکو پراختیا لپاره هوکړه لیکونه او تواميتونه

د اړیکو پراخولو، اغېزمنتیا ډېرولو او ظرفیت لوړونې په موخه انجنیري پوهنځی په پام کې لري چې په راتلونکو پنځو کلونو کې په ملي او نړیواله کچه له پوهنتونونو، ښاروالي، ښار جوړونې، فواید عامې او نورو ذیربطو ادارو سره د ګډو همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک کړي او هم ګډو همکاریو ته پراختیا ورکړي.

## د لوړو زده کړو وزارت

## لغمان پوهنتون

## د انجنيري پوهنځي د (۱۴۰۳-۱۴۰۷) کلنو توحیدي پلان

| شماره | ستراتیژیکي اهداف | اصلي موخې | عمده کړني | د۱۴۰۳ کال اړتیا | د ۱۴۰۳ کال اړتیاوو بودیجه په افغاني | د۱۴۰۴ کال اړتیا | د ۱۴۰۴ کال اړتیاوو بودیجه په | د۱۴۰۵کال اړتیا | د ۱۴۰۵ کال اړتیاوو بودیجه په افغا | د ۱۴۰۶ کال اړتیا | د۱۴۰۵ کال اړتیاوو بودیجه په | د۱۴۰۷ کال اړتیا | د ۱۴۰۷ کال اړتیاوو بودیجه په | د بودیجي د اړتیا دلایل او د | د بېځه کلونو بودیجه | ترسره کوونکي | همکار ریاستونه او اداري | متوقعه پایله | کتنې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | د څېړنو پراختیا، د پوهې او نوښت تولید. | د کادري بستونو پراختیا، ګمارنه او ظرفیت لوړول | د انجنیري پوهنځي اړوند دکادري بستونواړتیا پیژندنه او پشنهاد غوښتنه | ۲ بست | | ۱ بست | | ۱ بست | | ۰ | ۰ | ۱ بست | ۰ | د بست معاش | | دځانګې امرېتونه او دپوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | د اړوندو ځانګو اړتیاوی به پوره شی چې پدې توګه به د علمی ، څیړنیزو او اداري چارو کمیت او کفیت کې د پام وړ مثبت بدلون راڅرګند شی | |
| | | | | ۲ بې | | ۱ | | ۱ | | ۰ | ۰ | ۱ | ۰ | د | ۰ | دځا ځانګ | د پوه | | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | د لوړو زده کړو محترم وزارت د ملکي لوړو زده کړو د قانون مطابق په کار پوه، ملي او اکاډمیکو اصولو او ارزښتونو ته د ژمنو وګړو ګمارل | | | | | | | | | | | | | | | وړ بشری ځواک به وګمارل شي | |
| | | | د هېواد دننه ماستری او دوکتورا برنامو ته د علمي کادر پیژندل | ۲تنه | | ۲تنه | | ۱ تنه | | ۱ تنه | | ۱ تنه | | خدمتي کادری غړو معاش | | دڅانګی امریتنونه او دپوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | د خیړنیزو او تدریسی چارو د کیفیت لوړول | |
| | | | د هېواد بهر د ماستری او دوکتورا برنامو ته د علمي کادر پیژندل | ۲ تنه | | ۲تنه | | ۲تنه | | ۲تنه | | ۲ تنه | | خدمتی کادری غړو معاش | | دڅانګی امریتنونه او دپوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | د نړیوالو معیارونو سره برابر د خیړنیزو او تدریسی چارو پرمخ وړلو لپاره د کادرې غړو روزنه | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | د پوهنتون د داخلي منابعو څخه په استفادې میتودولوژی ورکشاپونه دایرول | ۲ پروګرام | ۳ تنه | ۲ پروګرام | ۳ تنه | ۲ پروګرام | ۳ تنه | ۲ پروګرام | ۳ تنه | ۲ پروګرام | ۳ تنه | قرطاسیه ، ډوډوی او د استاد حق الزحمه | | دځانګړی امرینتونه او دپوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | نوي ګمارل شوي کادرې غړي به د تدریس د میتودونو په اړه معلومات ترلاسه کړي | |
| | | | د پوهنتون د داخلي منابعو څخه په استفادې کادری او اداری غړو ته مدیریتی ورکشاپونه جوړول | ۲ پروګرام | ۳ تنه | ۲ پروګرام | ۳ تنه | ۲ پروګرام | ۳ تنه | ۲ پروګرام | ۳ تنه | ۲ پروګرام | ۳ تنه | قرطاسیه ، ډوډوی او د استاد حق الزحمه | | دځانګړی امرینتونه او دپوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | پدې توګه به غوره اداري او تدریسی چاپیریال رامنځته شي | |
| | | | کادري او مدیریتي غړو له پاره د هېواد دننه او | ۲ پروګرام | ۳ تنه | ۲ پروګرام | ۳ تنه | ۲ پروګرام | ۳ تنه | ۲ پروګرام | ۳ تنه | ۲ پروګرام | ۳ تنه | قرطاسیه ، ډوډوی او د | | دځانګړی امرینتونه او دپوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | د نړیوالو او داخلي پوهنتونو نو د تجربو څخه ګټه پورته کول | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | بهر لنډ مهاله روزنیز پروگرامونه او علمي سفرونه برابرو | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | د بهرنیو ژبو د زده کړې او عصري تکنالوژۍ د کارولو روزنیز پروگرامونه جوړول | ۲ پروګرام | ۲ تنه | ۲ پروګرام | ۲ تنه | ۲ پروګرام | ۲ تنه | ۲ پروګرام | ۲ تنه | ۲ پروګرام | ۲ تنه | قرطاسیه ، ډوډۍ او د استاد حق الزحمه | | دځانګې امرېتنونه او دپوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | د پوهنتون اداري کارکونکي او استادان به د بهرنی ژبې او معلوماتي تکنالوژۍ سره بلدتيا پیداکړي | |
| | | | د ټولنې د اړتیا اړوندو پروگرامونو ته د کادري غړو معرفي | ۲ تنه | | ۲ تنه | | ۲ تنه | | ۲ تنه | | ۲ تنه | | ترانسپورت | | دځانګې امرېتنونه او دپوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | په علمی او مسلکی توګه د ټولنی پراختیا | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | څېړنیز پروګرامونه ترسره کول | د پوهنځي په کچه د څېړنې کمېټه جوړول | ۱ کمېټه | | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | لګښت نلري | | پوهنځي رياست | ځانګې | د څېړنې د معاونیت سره د څېړنیزو چارو همغږي | |
| | | | د څېړنې سره د بلدتیا په موخه پوهنتون د ننه روزنیز ورکشاپونه جوړول | ۲ پروګرام | ۲ تنه | ۲ پروګرام | ۲ تنه | ۲ پروګرام | ۲ تنه | ۲ پروګرام | ۲ تنه | ۲ پروګرام | ۲ تنه | قرطاسیه ، ډوډۍ او د استاد | | دڅېړنې کمېټه | او پوهنځي رياست | کادري غړي به د څېړنیزو پروګرامونو اړوند مسایلو په اړه پوهه ترلاسه کړي | |
| | | | د هیواد څخه بهر په څېړنیز و ورکشاپونو کې د استادانو ګډون | ۲ تنه | | ۲ تنه | | ۲ تنه | | ۲ تنه | | ۲ تنه | | خدمتي مصارف | | دځانګې امریتونه او دپوهنځي رياست | د پوهنتون رياست او لوړو زده کړو محترم وزارت | د نړیوالو معیارونو سره سم د څېړنیزو پروژو ترسره کول | |
| | | | په بېلابېلو ځانګو کې د محصلینو په واسطه د څېړنو ترسره کول | د څلورم او دریم صنفونو محصلین | | د څلورم او دریم صنفونو محصلین | | د څلورم او دریم صنفونو محصلین | | د څلورم او دریم صنفونو محصلین | | د څلورم او دریم صنفونو محصلین | | د څېړنې لګښت | | ځانګې | پوهنځي رياست | د ټولنې اړتیا او ستونزو ته به د مسلک سره سم د حل لار وموندل شي | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | علمي مقالو لیکل | ۸ مقالې | | ۱۰ مقالې | | ۱۰ مقالې | | ۱۰ | | ۱۰ | | علمی مقالو ټکنبت | | ځانګې | پوهنځي ریاست | د علمي مجلو او ژورنالونو د نشرولو په اساس په علمي ډګر کې وده کو | |
| | | د نویو ځانګو رامنځته کول | د شپې برنامې ایجاد | ۱ برنامې | | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۱ برنامې | ۰ | ۰ | ۰ | ټکنبت نلري | | ځانګې | پوهنځي ریاست | د ټولني د اړتیا سره سم د لوړوزده کړو زمینه برابر او همدارنګه د پوهنتون عواید به هم لوړ شي | |
| | | معلوماتي تکنالوژۍ ته لاس رسی | د انټرنیت اسانتیاوې برابرول | محصلینو ته د WiFi سیستم برابرول | | | | | | | | | | تدارکاتو امریت | | د ځانګې امریتونه او دپوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | پدې سره به د محصلینو مسلکی پوهه پراختیا وکړي | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | په ټولو اداري او تدریسي پروسو کې د معلوماتي تکنالوژۍ د وسایلو کارول | محصلینو ته د کمپیوټر لب جوړول | ۱۰ پایه | | | | | | | | | تدارکاتو امریت | | دځانګړی امریتونه او دپوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | پدې توګه به اداري او تدریسی چارې په اسانه او معیاري توګه ترسره شي | |
| | | | د پوهنځی اړوند کارمندانو ته د معلوماتي تکنالوژۍ د کاروني په اړه د روزنیزو پروګرامونو دایرول | ۱ پروګرام | ۳ تنه | ۱ پروګرام | ۳ تنه | ۱ پروګرام | ۳ تنه | ۱ پروګرام | ۳ تنه | ۱ پروګرام | ۳ تنه | خطیبی صیب | | برښنایی زده کړو کمیټه | پوهنځی ریاست | د پوهنتون اداري کارکوونکي به د معلوماتي تکنالوژۍ د کاروني سره بلدتیا پیدا کړي | |
| | | | د معلوماتي تکنالوژۍ اړوند محصلینو ته روزنیز کورسونو جوړول | ۲ پروګرام | ۱۰۰ تنه | ۲ پروګرام | ۱۰۰ تنه | ۲ پروګرام | ۸۰ تنه | ۲ پروګرام | ۷۰تنه | ۲ پروګرام | ۸۰ تنه | خطیبی صیب | | برښنایی زده کړو کمیټه | پوهنځی ریاست | محصلین به د مسلکی پوهې تر څنګ د معلوماتي تکنالوژۍ په اړه معلومات ترلاسه کړي | |
| ۲ | د سیستم ایجاد او | د غوره حکومتوالۍ رامنځته کول او اداري سموکراسي | د اړتیا وړ اداري کارکوونکو وړاندیز کول | ۲ بست | | ۰ | ۰ | ۱ بست | | ۱ بست | | ۰ | | د بست معاش | | پوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو | اداري او خدماتي چارې به په منظمه توګه پرته له خنډ او | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | | | | | | | | | | | | | | | | ځنډ ځخه مخته لاړې | |
| | | | د اړتیا خدماتي کارکوونکو وړاندیز کول | ۲بست | | ۱بست | | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | د بست م د بست معاش عاش | | پوهنځی رياست | د پوهنتون رياست او لوړو زده کړو محترم وزارت | اداري او خدماتي چارې به په منظمه توګه پرته له ځنډ او ځنډ ځخه مخته لاړې | |
| | | | د رهبري او اداري مجالسو دايرول | ۲۴ غونډې | ۰ | ۲۴ غونډې | ۰ | ۲۴ غونډې | ۰ | ۲۴ غونډې | ۰ | ۲۴ غونډې | ۰ | لګښت نلري | | ځانګې امریت | پوهنځی رياست | د پوهنځی ټولې علمي او اداري چارې به په غوره توګه مخته لاړې شي | |
| | | | په ټول چارو کې د هیواد دنافذه قوانینو، لوړو زده کړو قوانینو، لوايحو، مقررو، پالیسيو | ۱۰ سلنه | ۰ | ۱۰ سلنه | ۰ | ۱۰ سلنه | ۰ | ۱۰ سلنه | ۰ | ۱۰ سلنه | ۰ | لګښت نلري | | دځانګې امریتونه او دپوهنځی رياست | د پوهنتون رياست او لوړو زده کړو محترم وزارت | پدې توګه به د پوهنځی ټولې چارې د نافذه قوانینو په رڼا کې مخته لاړې شي | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | او طرزالعملونو تطبیق | | | | | | | | | | | | | | | | |
| | | | د پوهنځیو په کچه د فساد سره د مبارزې کمیټې رامنځته کول | ۱ کمیټه | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | لګښت نلری | | دفساد کمیته | پوهنځی ریاست | پدي توګه به د فساد سره د مبارزې لپاره منظم سیستم رامنځته شي | |
| | | | د اداري فساد د مخنیوي اړوند عامه پوهاوي | دو غونډې | | دو غونډې | | دو غونډې | | دو غونډې | | دو غونډې | | د قرطاسیه لګښت | | دفساد سره دمبارزه کمیته | پوهنځی ریاست | د فساد د ډولونو او د اضرارو او د مخنیوی په لارو چارو باندي د محصلینو او کارمندانو پوهیدل | |
| | | د محصلینو لپاره غوره خدمات ترسره کول | د مسلکي پوهې تر څنګ د لازمو مهارتونو زده | ۲پروګرام | ۱۰۰ تنه | ۲پروګرام | ۱۰۰ تنه | ۲پروګرام | ۱۰۰ تنه | ۲پروګرام | ۱۰۰ تنه | ۲پروګرام | ۱۰۰ تنه | قرطاسیه او د استاد حق | | دځانګې امریتونه او دپوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | محصلین به د مسلکي زده کړو تر څنګ د کار د بازار د اړتیا سره | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | کړې چاپېريال چمتو کول | | | | | | | | | | | | | | | سم اړين مهارتونه هم زده کړي | |
| | | | د پوهنتون د چاپېريال سره د بلدتيا روزنيزو برنامو جوړول | ۲پروګرام | ۱۰۰ تنه | ۲پروګرام | ۱۰۰ تنه | ۲پروګرام | ۱۰۰ تنه | ۲پروګرام | ۱۰۰ تنه | ۲پروګرام | ۱۰۰ تنه | قرطاسیه | | دځانګې امرېتونه او دپوهنځی رياست | د پوهنتون رياست او لوړو زده کړو محترم وزارت | پدې توګه به محصلين د پوهنتون د چاپېريال په اړه معلومات پيدا کړي | |
| | | | د شنې ساحې پراختيا | ۵ ښلنه | ۲۰۰۰۰ | ۵ ښلنه | ۲۰۰۰۰ | ۵ ښلنه | ۲۰۰۰۰ | ۵ ښلنه | ۲۰۰۰۰ | ۵ ښلنه | ۲۰۰۰۰ | د بوټو او نیالګیو بلورل | | دچاپېرايال ساتنې کميټه | پوهنځي رياست او پوهنتون رياست | د غوره زده کړيز او ژوند چاپېريال چمتو کول | |
| | | | د محصلينو وړانديزونو او شکايتونو ته | ۱ کمیټه | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | لګښت نلري | | فرهنګي کميټه | پوهنځي رياست او پوهنتون رياست | پدې توګه به د پوهنځي په کچه د محصلينو وړانديزونه او | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | دلاس رسي سېستم جوړول | | | | | | | | | | | | | | | شکایات واوریدل شي | |
| | | | سپورتي پروګرامونو د ترسره کولو د میدانو جوړول | د کریکټ میدان | | د لوبو وسایلو خریداری | ۰ | د ولیبال میدان جوړول | ۰ | د لوبو دوسایلو خریدار | | د میدانونو ترمیم | | د میدانونو د جوړول او وسایلو خریداری | | سپورت کمیټه | پوهنځي ریاست او پوهنتون ریاست | د محصلینو د سپورتي وړتیاو د پراختیا په موخه منظم سیستم رامنځته کول | |
| ۳ | د نصاب تدوین او بیا کتنه. | د تحصیلي نصاب بیاکتنه او پراختیا | د پوهنځي د تدریسي نصاب د تطبیق او څارنې په موخه د کمیټي جوړول | ۱ کمیټه | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | لګښت نلري | | نصاب کمیټ | پوهنځي ریاست او پوهنتون ریاست | پدې توګه به د تدریسي نصاب د تطبیق د څارنې او ارزونې لپاره منظم سیستم رامنځته شي | |
| | | | د پوهنځیو اړوند دتدریسي کتابونو چاپ | ۳ جلده | | ۲ جلده | | ۲ جلده | | ۲ جلده | | ۲ جلده | | د کتابونو د چاپ | | دځانګي کادري غړي | اړوند اداري | د محصلینو لپاره به معیاری او منظم تدریسي کتابونه برابر شي | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | د ټولنې سره د بېلابېلو لارو اړیکې نیول | ۶تنه | | ۶تنه | | ۶تنه | | ۶تنه | | ۶تنه | | ترانسپورت | | دځانګړې امرېتنونه او دپوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | د ټولنې اړتیاو او ستونزو ته په مسلکې توګه د حل لارې پیدا کول | |
| | | | د کریکولم د پراختیا په موخه د هېواد دننه د نورو پوهنتونو سره سلا مشورې کول | ۲پروګرام | ۲تنه | ۲پروګرام | ۲تنه | ۲پروګرام | ۲تنه | ۲پروګرام | ۲تنه | ۲پروګرام | ۲تنه | خدمتي مصارف | | دځانګړې امرېتنونه او دپوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | پدې سره به د تجربه لرونکو وګرو د تجربو څخه ګټه پورته ش | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | دتاکل شوي کریکولم مطابق د تدریسي موادو چمتو کول | ۱۰۰ سلنه | ۰ | ۱۰۰ سلنه | ۰ | ۱۰۰ سلنه | ۰ | ۱۰۰ سلنه | ۰ | ۱۰۰ سلنه | ۰ | لګښت نلري | | دځانګړی امریتونه او دپوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم | د جوړ شوي نصاب سره سم به تدریسی بهیر مخته لاړ شي | |
| | | | د لوړو زده کړو محترم وزارت د پالیسی سره سم کلنی ارزونه ترسره کول | ۱۰۰ سلنه | ۰ | ۱۰۰ سلنه | ۰ | ۱۰۰ سلنه | ۰ | ۱۰۰ سلنه | ۰ | ۱۰۰ سلنه | ۰ | لګښت نلري | | نصاب کمیټه | پوهنځي ریاست او پوهنتون ریاست | پدې توګه به د کاریکولم د تطبیق خخه ډاډ ترلاسه شي | |
| | | د کرېډیټ د سیستم پیاوړتیا | د کریډیټ سیستم د اغیزمنتیا په اړه محصلینو ته معلومات ورکول | ۲ پروګرام | ۱۰۰ ته | ۲ پروګرام | ۱۰۰ ته | ۲ پروګرام | ۱۰۰ ته | ۲ پروګرام | ۱۰۰ ته | ۲ پروګرام | ۱۰۰ ته | فوځ | | ځانګې امریتون | پوهځي ریاست | محصلین به د کریدیت سیستم د تطبیق په جریان کې له هرډول ستونزو څخه ځان وساتې | |
| | | | د کرېډیټ سېستم عملي کېدو څارل | ۱۰۰ سلنه | ۰ | ۱۰۰ سلنه | ۰ | ۱۰۰ سلنه | ۰ | ۱۰۰ سلنه | ۰ | ۱۰۰ سلنه | ۰ | لګښت نلري | | ځانګې امریتون | پوهځي ریاست او پوهنتون ریاست | د کریدیت سیستم د تطبیق څخه به ډاډ ترلاسه شي | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | د علمي کادر تولو غړو او نورو اړوندو کارکوونکو ته د کریډیټ سیستم د عملي کېدو په اړه روزنیز ورکشاپونه پیلول | ۲ پروګرام | ۴ تنه | ۲ پروګرام | ۳ تنه | ۲ پروګرام | ۲ تنه | ۲ پروګرام | ۲ تنه | ۲ پروګرام | ۲ تنه | قرطاسیه | | د نصاب کمیټه | پوهنځي ریاست او پوهنتون ریاست | په کریدیت سیسم په تطبیق کې رامنځته شوی ستونزو ته به د حل لاره پیدا شی | |
| | | | د انجنیري لابراتوار ایجادول | ۵۰ سلنه | ۵۰۰۰۰۰۰ | ۲۰ سلنه | ۲۰۰۰۰۰۰ | ۲۰ سلنه | ۲۰۰۰۰۰۰ | ۱۰ سلنه | ۱۰۰۰۰۰۰ | ۰ | ۰ | لګښت نلری | | دڅانګي امریتونه | پوهنځی ریاست او پوهنتون ریاست | د نظري زده کړو ترڅنګ به د عملي زده کړو امکانات برابر شي | |
| | | | د پوهنتون او هېواد دننه او بهر میتودولوژي کورسونو او ورکشاپونو ته د | ۴ پروګزام | ۳ تنه | ۲پروګزام | ۲ تنه | ۲ پروګزام | ۲ تنه | ۲پروګزام | ۲ تنه | ۲ پروګزام | ۲ تنه | خدمتي مصارف | | دڅانګی امریتنونه او دپوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | د نور هیوادونو د زده کړی د اغیزمنو میتودونو کاپي کول | |

| ۴ | | | |
|---|---|---|---|
| په لوړو زده کړو نهادونو کې د کیفیت د تضمین او عتبار ورکونې د معیارونو د تطبیق څخه د ډاډ حاصلول. | | | |
| د کیفیت تضمین او اعتبار اخیستنه | | | |
| د تضمین کیفیت په برخه کې روزنیزو | د تضمین کیفیت د معیارونو د تطبیق په موخه خارنه او ارزونه | د پوهنځي په کچه د تضمین کیفیت کمېټې جوړول | کادري غړو ورپېژند |
| ۱ پروگزام | ۲ پروگزام | ۱ کمیته | |
| ۱۰ تنه | ۴ تنه | ۰ | |
| ۱پروگزام | ۲پروگزام | ۰ | |
| ۱۰ تنه | ۴ تنه | ۰ | |
| ۱ پروگزام | ۲ پروگزام | ۰ | |
| ۱۰ تنه | ۴ تنه | ۰ | |
| ۱پروگزام | ۲پروگزام | ۰ | |
| ۱۰ تنه | ۴ تنه | ۰ | |
| ۱ پروگزام | ۲ پروگزام | ۰ | |
| ۱۰ تنه | ۴ تنه | ۰ | |
| قرطاسیه | لګښت نلری | لګښت نلری | |
| | | | |
| تضمین کیفیت کمیته | تضمین کیفیت کمیته | پوهنځي ریاست | |
| پوهنخي ریاست او پوهنتون ریاست | پوهنخي ریاست او پوهنتون ریاست | پوهنتون ریاست | |
| د تضمین کفیت چاری به په غوره توګه مخته لاړې شي | د تضمین کفیت د معیارونو دتطبیق څخه به ډاډ ترلاسه شي | د تضمین کفیت او اعتبار اخیستنې چارې به په منظمه توګه مخته لاړې شي | |
| | | | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | پروګرامونه جوړول | | | | | | | | | | | | | | | | |
| ٥ | دالکترونیکي زده کړو ښه والی او پراختیا | د بریښنایي زده کړو پروګرام | د برېښنايي زده کړې کمېټې جوړول | ۱ کمیته | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | لګښت نلری | | پوهنځي رياست | پوهنتون رياست | د بريښنائي زده کړو لپاره د منظم سیستم | |
| | | | د برېښنايي زده کړو په اړه کادري او اداري کارکوونکو ته ورکشاپونو دايرول | ۱ پروګرام | ۲۰ تنه | ۱ پروګرام | ۱۰ تنه | ۱ پروګرام | ۱۰ تنه | ۱ پروګرام | ۱۰ تنه | ۱ پروګرام | ۱۰ ته | قرطاسیه | | دبرښنايي زده کړو کمیته | پوهنځي رياست او پوهنتون رياست | استادان او اداري کارکونکي به د بریښنایي زده کړو د سیستم په اړه معلومات ترلاسه کړي | |
| | | | برېښنايي زده کړو سره د محصلینو بلدتیا | ۲ پروګرام | ۱۰۰ تنه | ۲ پروګرام | ۱۰۰ تنه | ۲ پروګرام | ۱۰۰ تنه | ۲ پروګرام | ۱۰۰ تنه | ۲ پروګرام | ۱۰۰ تنه | قرطاسیه | | دبرښنايي زده کړو کمیته | پوهنځي رياست او پوهنتون رياست | د برښنايي زده کړې د کاروني په وخت کې به د محصلين د | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ٦ | | | |
| د زیربناوو ښه والی او پراخوالی | | | |
| د عایداتي سرچینو رامنځته کول، پراختیا او مالي خپلواکي ترلاسه کول | | | |
| لنډ مهاله مسلکي کورسونه جوړول | د شپې برنامې رامنځته کول | د انټرنیت اسانتیاوې برابرول | |
| ۴ پروګرام | ۰ | ۱۰۰ سلنه | |
| | ۰ | | |
| ۲ پروګرام | ۰ | ۱۰۰ سلنه | |
| | ۰ | | |
| ۲ پروګرام | ۰ | ۱۰۰ سلنه | |
| | ۰ | | |
| ۲ پروګرام | ۰ | ۱۰۰ سلنه | |
| | ۰ | | |
| ۲پروګرام | ۰ | ۱۰۰ سلنه | |
| | ۰ | | |
| | لګښت نلري | خطیبي صیب | |
| | | | |
| دځانګې امریتونه او دپوهنځی ریاست | دځانګې امریتونه او دپوهنځی ریاست | دځانګې امریتونه او دپوهنځی ریاست | |
| د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | |
| د محصلینو ته د عملي کارونو ترخنګه به د پوهنتون د عوایدو کچه لوړه شي | د شپې برنامې په رامنځته کولو سره به د پوهنتون دعوایدو کچه لوړه شي | ممتاز محصلین به د ورسپارل شوي مسلکي دندو په ترسره کولو کې د انټرنیت څخه کاروا‌خلي | ستونزو سره مخ نه شي |
| | | | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |
| | | | |
| د مناسب تدریسي او اداري چاپیریال د رامنځته کولو لپاره د اړتیا وړ زیربناوو جوړول | | | |
| لابراتواري وسایلو خریداري | د مجهز کمپیوټر لب جوړول | دیپلوم او ترانسکریپت ورکړه | د ولایت په کچه ساختماني ازمېښتونه ترسره کول |
| د اړتیاوړ اجناس | ۱۰۰ سلنه | فارغ محصلینو | نظر امکاناتو ته په کتو |
| | | ۰ | |
| د اړتیاوړ اجناس | | فارغ محصلینو | نظر امکاناتو ته په کتو |
| | | ۰ | |
| د اړتیاوړ اجناس | | فارغ محصلینو | نظر امکاناتو ته په کتو |
| | | ۰ | |
| د اړتیاوړ اجناس | | فارغ محصلینو | نظر امکاناتو ته په کتو |
| | | ۰ | |
| د اړتیاوړ اجناس | | فارغ محصلینو | نظر امکاناتو ته په کتو |
| | | ۰ | |
| د وسایلو خریداري | مالي معاونیت | لګښت نلری | د ساختماني لابراتوار د موجودیت |
| | | | |
| دځانګې امریتونه او دپوهنځی ریاست | دځانګې امریتونه او دپوهنځی ریاست | پوهنځی ریاست | دځانګې امریتونه او دپوهنځی ریاست |
| د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت |
| ساختماني ټیسټونه به په غوره طریقه ترسره شي | محصلین به وکړی شي چې د بیلابیلو انجنیري سافټویرونو په مرسته به مختلف انجنیري ساختمانونه به ډیزاین کړي. | د پوهنتون د عوایدو کچه به لوړه شي | د ولایت په کچه به د ساختماني ټیسټونو کیفیت لوړ شي او هم د پوهنتون عایداتي سرچینو پراختیا |
| | | | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | ترمیمات | د پوهنځی تعمیر | | د پوهنځی رنګ | | | | | | د پوهنځي تعمیر | | ترمیم | | دپوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | د پوهنتو د زیربناو د تخریب مخه به ونیول شي او سالم چاپیریال به رامنځته شي | |
| | | | د معیاری تدریسی صنفونو جوړول | تکنالوژیکی وسایل | | تکنالوژیکی وسایل | | تکنالوژیکی وسایل | | تکنالوژیکی وسایل | | تکنالوژیکی وسایل | | تکنالوژیکی وسایلو | | دځانګی امریتنونه او دپوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | پدې توګه د زده کړې منظم چاپیریال رامنځته شي | |
| | | | د چمنونو جوړول | ۱۸۰۰ متره مربع | | ۲۰۰ نیالګي کرل | | ۲۰۰ نیالګي کرل | | ۲۰۰ نیالګي کرل | | | | خاوری او چمن | | دځانګی امریتنونه او دپوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست | د منظم چاپیریال رامنځته کول | |
| | | | دفترې وسایلو خریداری | کمپیوتر ۲ عدده او پرنتر ۲ عدده | | دفتری میز او چوکی ۷ عدده | | کوچونه او چای خوری | | ارکندیشن ۱۰ عدده | | | | د دفترې وسایلو خریداری | | دځانګی امریتنونه او دپوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | منظم کاری چاپیریال رامنځته کول | |
| | | | خدماتي کارکونکی بست | د فارم کارکوونکی دو بسته روز باش او | | اشپز او باغوان | | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | ۰ | د بست معاش | | دپوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو | د پوهنځي ټولی اداری ، تدریسی او څیړنیزی چاری به په منظم | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | | |
| توامیتونو او هوکړه | | | |
| اکاډمیکو ادارو سره د اړیکو پراختیا لپاره هوکړه لیکونه | | | |
| هوکړه لیک امضاء | کادری بست | اداری کارکونکی بست | |
| ننګرهار پوهنتو ن انجنیري پوهنځي ، کابل پوهنتون او پولتخنیک پوهنتون | ۲ بست | لابرانت | |
| | | | |
| کندهار پوهنتون انجنیري پوهنځی | ۲ بست | اجرایه مدیر | |
| | | | |
| خوست پوهنتون انجنیري پوهنځی | ۲ بست | ۰ | |
| | | ۰ | |
| | | کتابخانی مدیر | |
| | | | |
| | | ۰ | |
| | | ۰ | |
| ترانسپورت | د بست معاش | د بست معاش | |
| | | | |
| دځانګی امریتنونه او دپوهنځی ریاست | دځانګی امریتنونه او دپوهنځی ریاست | دپوهنځی ریاست | |
| د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | |
| د تقرر، ترفیعاتو ، څېړنیزو پروژو او نورو علمي برخو کې د هغوی د تجربو | د پوهنځي تولی اداری ، تدریسی او څېړنیزی چاری به په منظم شکل مخته لاړې شي | د پوهنځي تولی اداری ، تدریسی او څېړنیزی چاری به په منظم شکل مخته لاړې شي | شکل مخته لاړې شي |
| | | | |

| | | | | | | | | | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۷ | | | | | | | | | | | | | | | | | خخه کار واخیستل شی | |
| | | د غیر اکاډمیکو ادارو سره د اړیکو پراختیا لپاره هوکړه لیکونه | هوکړه لیک امضاء | ٦ ولایتي زیربطو ادارو سره (مهترلام ښاروالی، فواید عامي ریاست، ښار جوړونې ریاست، سینديزې حوزې ریاست، بریښنا ریاست، د ژوند چاپیریال ریاست) | ښار جوړونېوزارت او اب برق وزارت | | تولګتو چارو وزارت او چاأپریال ساتنې ریاست | | لغمان ولایت خصوصی شرکتونه | | د کلو او پراختیا وزارت | | ترانسپورت | | دڅانګی امریتنونه او دپوهنځی ریاست | د پوهنتون ریاست او لوړو زده کړو محترم وزارت | د خیړنیزو پروژو او روزنیزو پروګرامونو کې دوه اړخیره مرسته | |

## سواټ تحلیل SWOT Analysis

| قوت (Strength) | کمزورتیا (Weakness) |
| --- | --- |
| • د غوره رهبرۍ او مدیریت شتون<br>• ځوان کادري غړي لرل<br>• د ماسټر تر کچې د استادانو شتون<br>• ښه تدریسي او اداري کاري چارپیریال درلودل<br>• انټرنټ ته لاس رسی<br>• د پوهنځي د انکشاف لپاره پراخه ساحه<br>• د پوهنځي په کچه د بیلابیلو کمېټو شتون<br>• د علمي څېړنو په برخه کې کافي وړتیا شتون<br>• د اپډیټ درسي موادو شتون | • د کافي شمیر استادانو نشتون<br>• د لوړ رتبه او دوکتورا درجې لرونکو استادانو نشتون<br>• د معیاري لابراتوار نشتون .<br>• د کمپیوټر لب نشتون.<br>• د مجهز کتابتون نشتون<br>• د څېړنیز مرکز نشتون<br>• د اداري او خدماتي کارکونکو کموالی.<br>• د قراردادي استادانو لپاره کم معاش<br>• د محصلینو له پاره د ورزشي ساحو نه شتون |
| **فرصتونه (Opportunities)** | **ګواښونه (Threats)** |
| • محصلینوته دخدماتو د ترسره کولو له پاره د خصوصي سکتور موجودیت<br>• دمهارتونو د لوړولو د پروګرامونو شتون<br>• د فارغانو لپاره د کارموندنی امکانات<br>• د محصلینو لپاره په دولتی او غیر دولتی ادارو کې د انترنشیپ د پروګرامونو شتوالی<br>• په پرتلیزه توګه د فارغانو په دندو کې د ګمارنی لوړ چانس لرل<br>• په ټولنه کې د لازم درېځ او ملاتړ لرل<br>• د ذیربطو ادارو او پوهنتونونو سره د روابطو شتون<br>• د مختلفو پرمختلو انجنیري سافټویرونو په کارولو سره د محصلینو ظرفیت لوړونې امکان<br>• د داخلي او بېلابېل هیوادنو څخه د استادانو د علمي کچې لوړوالي له پاره د ماسترۍ او دوکتورا بورسونو موجودیت | • د اکاډیمیکی خپلواکی نه لرل<br>• د مالی استقلالیت نشتوالی<br>• د محصلینو د شمیر ورځ په ورځ زیاتیدنه او د امکاناتو کموالی<br>• د استادانو لپاره د استوګنځیو نشتوالی<br>• د بوټو او شنو ساحو د حفاظت لپاره د باغوان نشتون<br>• محصلینو ته د لیلیې نشتوالی<br>• د استادانو د ظرفیت لوړونې په برخه کې د بهرنیو سکالرشیپونو او فیلوشیپونو نشتون<br>• د څېړنیزو فرصتونو کموالی<br>• بازار کې د پیاوړې تکنالوژۍ نه شتون |

## پایله او د دې ستراتیژیک پلان پلي کول

دغه استراتیژیک پلان د انجینري پوهنځي راتلونکې تګلاره او همدارنګه د اکاډمیکې برترۍ ترلاسه کولو لپاره د دې پوهنځي د منسوبینو او استادانو تعهدات ټاکي. د ستراتیژیک پلان د تطبیق څخه د اطمینان په موخه به په دوامداره توګه څارنه او ارزونه ترسره کیږي. همدارنګه د ستراتیژیکو اهدافو د لاسته راوړولو په موخه به کلني عملیاتي پلانونه جوړیږي.

د انجینري پوهنځي ستراتیژیک پلان د پلان او پالیسی د کمېټې په (۲۹- ۱۱- ۱۴۰۳ هـ ل) په نیټه غونډه کې مطرح او د رایو په یو والي سره تائید شو، چې په (۱۰)ګڼه پروتوکول کې ثبت ده.

د انجینري پوهنځي ستراتیژیک پلان د پوهنځي دعلمي شورا په (۲۸- ۱۲ – ۱۴۰۳ هـ ل) په نیټه غونډه کې مطرح او د رایو په یو والي سره تائید شو، چې په ( ۱۲ ) ګڼه پروتوکول کې ثبت ده.

پوهنمل انجنیر محمد خالد ناصري
انجنیري پوهنځي رئیس